مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۸/۰۷

# دا قام نهر دی، ددوئ کار پسي زاره و چاوده

مئينان نه دي چي يې يار پسي زاره و چاوده
دا قام نهر دی، ددوئ کار پسي زاره و چاوده

ستوري ترې نه غواړو بس غواړو ترې نظر د انسان
زموږه داسي يو سرکار پسي زاره و چاوده

خلک مرغيو ته غنم شيندي چي وږي نشي
زما د وږي ولس جوار پسي زاره و چاوده

دلته د هر يو مسلکي پر ځای قاري تعين شي
ددې وګړو اهل کار پسي زاره و چاوده

څوک چي د وږي نه لايک نهٔ کوي نو بلاک مي دې کړي
زما ياغي باغي دلدار پسي زاره و چاوده

دنيا دوزخ شي خود کشي شي ابدي جهنم
باوره څکه خو يې دار پسي زاره و چاوده





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ